# بانک

د افغانستان بانك میاشتنۍ

پنځلسم کال، ۱۷۲ گڼه د ۱۴۰۰ کال د لیندۍ میاشت



منابع عایداتی، یکی از نیازهای مهم دولت



د افغانستان بانک د لومړي مرستیال په مشرۍ غونډه جوړه شوه



بیمه؛ تضمینی برای جبران خساره



په اقتصاد کې د اسعاري زیرمو ارزښت



# افغانی، زمونږ د ویاړ،
# اقتدار او ملي هویت نښه ده!



## د دې ګڼې مطالب


د افغانستان بانک د لوړې مرستیال په مشرۍ غونډه جوړه شوه

تدویر جلسه مشترک با نمایندگان اتحادیه بانک ها، بانک های تجارتی ...

د افغانستان بانک د کاري چارو د څانګې والي په اړه غونډه جوړه شوه

شریعه بورد د افغانستان بانک تدویر جلسه نمود

لس هغه ټکي چې هره نوې واده شوې جوړه یې باید د پیسو د لګښتونو...

منابع عایداتی، یکی از نیازهای مهم دولت

په اقتصاد کې د اسعاري زېرمو ارزښت

د افغانستان بانک د سرپرست ښاغلي الحاج عبدالقاهر پیغام

نقش تکنالوژی اطلاعات در گسترش فعالیت بانک ها

د ویسترن یونین او سویفټ حوالې

اقتصادي خبرونه

بیمه؛ تضمینی برای جبران خساره

معرفی بعضی از اصطلاحات مهم بانکی

مختصری بر بانکداری سنتی و بانکداری الکترونیکی

لیټر آف کریډټ

نگاه کوتاه بر رشد اقتصادی و توسعه اقتصادی

محصولات و خدمات مالی در افغانستان



بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: داکتر جهانتاب ولیزار و نصر الله ستانکزی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حسیب الله نوری و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مسئول چاپ و توزیع: حمید الله رضایی

آدرس: د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸



مسئولیت مضامین و مقالات به نویسنده‌گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



Da Afghanistan Bank-Youtube   twitter.com/AFGCentralbank   www.facebook.com/AFGCentralbank







# د افغانستان بانک د لومړي مرستیال په مشرۍ غونډه جوړه شوه

۱۴۰۰ د لیندۍ ۲ مه – د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په مشرۍ د افغانستان بانک د اړوندو قوانینو، فرمانونو، کړنلارو او لایحو په اړه د دې بانک په عالي شورا کې غونډه جوړه شوه.

دا غونډه د افغانستان د اسلامي امارت د کابینې د ۱۴۰۰/۸/۱۷ نېټې د ۹ ګڼې فرمان پر بنسټ جوړه شوه. په یاد فرمان کې امارتي وزارتونو او ادارو ته دنده سپارل شوې ده چې د تېر حکومت قوانین، فرمانونه، کړنلارې او لایحې وګوري او که چېرته په هغو کې شرعي او اداري ستونزې شتون ولري پیدا او بشپړ راپور یې د کابینې غونډې ته وړاندې کړي.

د یادونې وړ ده په دې غونډه کې د افغانستان بانک د بېلابېلو آمریتونو آمرینو او سرپرستانو ګډون کړی وو چې د اړوندې موضوع په اړه یې خپل نظرونه او وړاندیزونه د غونډې له ګډونوالو سره شریک کړل.

د غونډې په وروستۍ برخه کې د حقوقي چارو د آمریت په مشرۍ ګډه کمېټه رامنځته شوه چې له بانکونو د څارنې آمریت، د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د پراختیا آمریت، د بانکي عملیاتو آمریت، د بشري سرچینو آمریت، د مالي استخباراتو آمریت او د مالي چارو آمریت یې غړي دي.

دا کمېټه د افغانستان بانک قوانین، فرمانونه، کړنلارې او لایحې له اداري اړخه ګوري او شته ستونزې په نښه کوي چې له رهبري پلاوي سره تر شریکولو وروسته به د کابینې غونډې ته واستول شي.







# د افغانستان بانک د کاري چارو د ښه والي په اړه غونډه جوړه شوه

کابل، ۱۴۰۰ کال د لړم ۴ مه ـ د افغانستان بانک د دویم مرستیال ښاغلي عبدالقدیر (احمد) په مشرۍ د افغانستان بانک د آمریتونو له آمرینو سره د عالي شورا په دفتر کې اداري غونډه جوړه شوه.

د دې غونډې د جوړېدو موخه د افغانستان بانک د کاري چارو او د آمریتونو د کاري چارو له څرنګوالي څخه د راپور ورکونې د سیستم ښه والی او د هغوي ستونزو ته رسیدنه وه.

د غونډې په پیل کې د افغانستان بانک دویم مرستیال د افغانستان بانک د بېلابېلو شعبو د آمرینو ستونزې، وړاندیزونه او اړین نظرونه واوریده.

وروسته د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي عبدالقدیر (احمد) د ستونزو د حل په اړه د خبرو په اوږدو کې وویل چې د افغانستان بانک کارکوونکي باید په خپلو کاري چارو کې د لا روڼتیا او څېرتیا اصل په پام کې ونیسي او خپلې اړوندې کاري چارې په ښه توګه پر مخ بوځي او باید موخه یې خلکو او هېواد ته رېښتینې خدمت وي.

د افغانستان بانک دویم مرستیال د خپلو خبرو په دوام کې زیاته کړه چې د افغانستان بانک د مشر تابه پلاوي او د کارکوونکو ګډې هڅې د هېواد د مالي او بانکي نظام د ټیکاو ساتلو په موخه دي او په دې برخه کې به له هیڅ ډول هلو ځلو څخه دریغ ونکړو.

په پای کې د افغانستان بانک دویم مرستیال د افغانستان بانک د آمریتونو د ستونزو د حلولو لپاره د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه او د دې غونډې د ارزښتناکه بللو ترڅنګ یې لارښوونه وکړه څو د کاري چارو د ښه والي لپاره باید دا ډول غونډې دوام ولري.





# شریعه بورد د افغانستان بانک تدویر جلسه نمود

۸ عقرب ۱۴۰۰- سومین جلسۀ شریعه بورد به ریاست محترم عبدالقدیر احمد معاون دوم د افغانستان بانک برگزار شد. معاون دوم د افغانستان بانک در این جلسه خاطرنشان ساخت که رهبری د افغانستان بانک به توسعه بانکداری اسلامی متعهد بوده و آماده هر نوع همکاری با شریعه بورد د افغانستان بانک در این زمینه می باشد.

به گفته وی، اگرچه تاکنون برای توسعه بانکداری اسلامی در کشور کار های صورت گرفته است، اما با روی کار آمدن امارت اسلامی افغانستان، گام های قابل توجهی برای توسعه هر چه بیشتر این سکتور برداشته خواهد شد.

به گفته عبدالقدیر احمد، کار روی یک طرح جامع برای توسعه و پیشرفت بانکداری اسلامی در جریان است که پس از تکمیل به ریاست الوزرا جهت منظوری ارسال خواهد شد.

گفتنی است که در این نشست یک سلسله موضوعات مرتبط دیگر نیز مورد بحث و بررسی قرار گرفت و تبادل نظر بین اشتراک کنندگان انجام شد.







## تدویر جلسه مشترک با نمایندگان اتحادیه بانک ها، بانک های تجارتی و شرکت برشنا

کابل، ۲۵ میزان ۱۴۰۰- جلسه ای تحت ریاست محترم عبدالواحد جبار خیل آمر عمومی عملیات بانکی د افغانستان بانک با نمایندگان اتحادیه بانک ها، بانک های تجارتی کارگزار در کشور و شرکت برشنا در دفتر جلسات شورای عالی د افغانستان بانک تدویر گردید.

هدف از تدویر این جلسه بهبود امور و تسهیل پرداخت های بانکی شرکت برشنا بود که اشتراک کننده گان روی مشکلات یاد شده به طور مفصل بحث و تبادل نظر نمودند.

متعاقباً، محترم جبار خیل آمر عمومی عملیات بانکی د افغانستان بانک خطاب به نمایندگان بانک های تجارتی گفت که روند تادیات شرکت برشنا را به شکل سهل آغاز نموده و در این زمینه همکاری لازم نمائید.

# لس هغه ټکي چې هره نوې واده شوې جوړه یې باید د پیسو د لګښتونو د مدیریت لپاره مراعات کړي

د پیسو په اړه په بېلابېلو ټولنو کې مختلف نظرونه موجود دي. څوک ښه او څوک هم بد نوم ورکوي، خو په ژوند کې پیسې د خورا زیات ارزښت لرونکې دي. حتي پیسې کولای شي ستاسو ټولنیز ځای ته بدلون ورکړي او ستاسو په خوی او عادت باندې اغېز ولري.

د دې لپاره چې د ژوند مالي چارې مو په ښه ډول مدیریت کړئ، کورنۍ ستونزې و نه لرئ او په ژوند کې مو چا ته لاس اوږد نه وي د پیسو مدیریت ته مو پاملرنه وکړئ. بریالۍ کورنۍ پوهېږي چې مالي مدیریت د دوی پر کورني ژوند کې څومره مهم رول لري.

په دې مقاله کې د پیسو او لګښتونو د مدیریت په اړه په لاندې توګه معلومات وړاندې کېږي.

**رښتیني اوسئ:** هر څه په ښکاره توګه بیان کړئ. وړاندې له دې چې د یوې مسئلې په اړه برنامه جوړه کړئ، باید هغه عادتونه چې د لګښتونو په اړه یې لرئ رښتیني و اوسئ. دا چاره له تاسو سره مرسته کوي چې د خپلې کورنۍ غوښتنې پوره کړای شئ او خپل ژوند له هر ډول ستونزې پرته پر مخ یوسئ.

**مالي موخې وټاکئ:** که غواړئ چې له مالي پلوه بریا تر لاسه کړئ، ډېره مهمه ده چې پر یو لور ګامونه پورته کړئ. آیا موخه مو دا ده چې د کال تر آخره موټر واخلئ او یا هم د

»

درېیو کلونو په ترځ کې مالي خپلواکي تر لاسه کړئ؟ آیا غواړئ لویه پانګه اچونه وکړئ؟ او که په راتلونکې کې د لوړ مقام د تر لاسه کولو په هڅه کې یاست، نو سره له همدا اوس یې په اړه برنامه جوړه کړئ.

**یو ځانګړئ او یو شریک بانکي حساب جوړ کړئ:** د شریک بانکي حساب لرل دا معنی لري چې تاسو غواړئ په ګډه سره سپما وکړئ او کولای شئ خپلو موخو ته د رسېدو لپاره تړې ګټه پورته کړئ. دا ګډ حساب د خپلو ورځنیو چارو د پرمخ وړلو لپاره مه کاروئ، بلکې د ورځنیو لګښتونو لپاره مو ځانګړئ حساب پرانیزئ. د دې چارې په تر سره کولو سره تاسو آزادي تر لاسه کوئ چې خپلو ګډو موخو ته په آسانۍ سره ورسېږئ.

**د بودجې په اړه ګډې پرېکړې وکړئ:** هر هغه وخت چې خپل ګډ ژوند پیلوئ، له یو بل سره کېښېنئ او د مالي مسائلو په اړه خبرې وکړئ. دا چاره ستاسو سره مرسته کوي چې سپما وکړای شئ.

**د پور اداینه مو وکړئ:** که تاسو له کوم چا څخه پور اخیستی وي، بېرته یې ورکړئ. د پور نه ادا کول ستاسو مالي چارې له خنډ سره مخ کوي او نه شئ کولای ټاکل شوې موخې په آسانۍ سره تر لاسه کړئ.

**پر خپلو حسابونو څارنه کوئ:** هڅه وکړئ چې ټول لګښتونه مو په منظم ډول یادداشت کړئ، که څه هم ډېر کوچني لګښتونه وي. د لګښتونو تر نظر لاندې نیول له تاسو سره مرسته کوي چې په راتلونکو میاشتو کې خپل لګښتونه او د ژوند سبک د هغه مطابق جوړ کړئ.

**د ناڅاپي پېښو د رامنځته کېدو لپاره سپما وکړئ:** په ژوند کې د ناڅاپي پېښو د رامنځته کېدو لپاره سپما وکړئ. دا چاره تاسو ته د دې امکان درکوي چې په بېړنیو حالاتو یا د ناڅاپي پېښو پر وخت د مالي چارو د مدیریت توان ولرئ. دا سپما کولای شي تاسو ته ډاډ درکړي چې په اضطراري حالاتو کې په ښه ډول لګښت وکړئ.

**د اړتیا وړ توکي په قسطونو واخلئ:** د هغو وسایلو په اړه چې تاسو نه شئ کولای په نغد ډول یې واخلئ، داسې پلورنځي پیدا کړئ چې په قسطوار ډول توکي پلوري. په یاد مو وي هغه توکي چې غواړئ په قسطوار ډول یې واخلئ په بازار کې هم بیه کړئ هسې نه له بازار څخه په ډېره لوړه بیه یې را ونیسئ.

**د مالي معاملو د ورکړې تاریخ مو له ځان سره یادداشت کړئ:** په موبایل کې مو ټول هغه وختونه چې تاسو اړ یاست خپلې مالي معاملې ادا کړئ یادداشت کړئ، په ځانګړې توګه د بانک قسطونه، ځکه دا ډول قسطونه جریمه لري او هر څومره چې ځنډول کېږي، ستاسو کورني اقتصاد ته زیان رسوي.

**د بودجې مطابق لګښت وکړئ:** د خپلو مالي عوایدو مطابق لګښت وکړئ، دا چاره کولای شي تاسو ته آزادي او آرامي درکړي.•

حسیب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفیسر

---

سرچینې:

١- ١٠ نکته مهم مالی که هر زوجی باید بداند 10نکته مهم مالی که هر زوجی باید بداند - رسانه موفقیت یوکن(ucan.win)

٢. Important Things Every Couple Should Do Before Getting Marriedhttps://www.realsimple.com/work-life/family/relationships/things-to-do-before-marriage

٣. Things about financial management every newlywed couple should knowThings about financial management every newlywed couple should know (indiatimes.com)



# منابع عایداتی، یکی از نیازهای مهم دولت

دولت ها جهت تکافوی مصارف عادی و انکشافی خویش به منابع عایداتی ضرورت دارند تا به وسیلۀ آن بتوانند که پروژه و برنامه های کاری خویش را بصورت منظم تطبیق و عملی نمایند.

»

به همین ترتیب، بین عواید و مصارف دولت باید یک توازن موجود باشد که آنرا بنام توازن بودجه یاد میکنند. این توازن نظر به وضعیت اقتصادی هر کشور فرق میکند که موارد تفاوت آنها چنین می باشد:

- طوریکه میدانیم کشورهای کمتر انکشاف یافته به کسر بودجه روبر هستند، زیرا این کشورها نظر به کمبود تولید صادرات کم دارند و برعکس، واردات این کشورها بیشتر است.
- بر عکس کشورهای فوق، کشورهای پیشرفته صنعتی قسمی که از نام شان هویداست دارای صادرات زیاد بوده و واردات آنها کمتر می باشد که در نتیجه، این گروپ از کشورها پول زیاد از درک صادرات بدست میاورند و حتی هر از گاهی دارای ما زاد بودجه نیز می باشند.

افغانستان از جمله کشورهای کمتر انکشاف یافته است که با کمبود تولید و به تبع آن صادرات کم مواجه است و نمی تواند که مصارف عادی خود را از عواید خویش بدست آورد. بناءً نیاز است که افغانستان روی منابع عایداتی خویش هر چه بیشتر کار و تلاش نماید تا دولت و مردم این کشور با مشکلات اقتصادی حاد روبرو نشوند.

اعمار و تکمیل پروژه های نا تمام چون ( بندهای برق، پروژۀ تاپی، کاسا یک هزار و غیره) توزیع پاسپورت و تذکره های الکترونیکی به تجار و مردم عام، آغاز پروسه طی مراحل اسناد و جواز سیر وسایط ریاست ترافیک در همه ولایات، فراهم سازی زمینۀ صادرات برای محصولات زراعتی، مبارزه با فساد مالی و اداری، مبارزه با قاچاق کالاها، قانونی ساختن خانه های زورآباد، توزیع قباله شرعی برای بلاک ها که به شکل رهایشی آباد گردیده است و ... موارد، میتواند تا سبب افزایش عواید دولت گردد و چرخه های اقتصادی کشور را به حرکت آورد.

تعدادی از موارد که می تواند عواید دولت را تقویه بخشد، در ذیل به شکل مختصر به آنها اشاره می گردد.

**ایجاد و توسعۀ بندهای برق:** استفاده از برق وارداتی به نحوی بر اقتصاد کشور صدمه وارد می نماید. تأمین برق وارداتی باعث کاهش عواید کشور گردیده و زمینه خروج اسعار را مساعد می سازد. اعمار و ساخت بندهای برق و حتی تکمیل پروژه های ناتمام گذشته در حیات اقتصادی و اجتماعی کشور بسیار اثر گذار است. بدون تردید که پیشبرد این چنین پروژه ها در کنار تأمین انرژی مورد نیاز کشور، زمینۀ کار را برای طبقه بیکار، تقویت اقتصاد خانواده ها و رشد و توسعه اقتصادی کشور را به همراه خواهد داشت. با ایجاد بندهای برق از یک طرف هزینه هنگفتی که درین مورد به کشورهای دیگر تادیه می گردد، جلوگیری شده و از طرف دیگر افغانستان می تواند تا نیازهای داخلی خود را مرفوع و از عواید حاصله تکافوی قسمتی از مصارف داخلی کشور را نماید.

**انتقال خط لوله تاپی:** افغانستان منحیث پل ارتباطی میان کشورهای آسیای میانه و جنوب آسیا، یگانه راه کوتاه جهت انتقال گاز ترکمنستان به پاکستان و هند می باشد که از این طریق کشور ما می تواند در پهلوی دیگر منابع عایداتی خود از این طریق درآمد خوبی را نیز بدست آورد. کار روی خط لوله

تاپی یکی از بهترین گزینه های همکاری اقتصادی منطقوی به شمار میرود. در صورت تحقق این پروژه افغانستان از مدرک حق العبور این پایپ لاین سالانه عاید خوبی بدست آورده که سبب افزایش عواید شده و با هزینه آن در دیگر بخش های تولیدی می توان شاهد رشد اقتصادی کشور باشیم.

**مبارزه با فساد مالی و اداری:** فساد مالی و اداری یکی از چالش های مهم در عرصه اقتصادی به شمار میرود که سبب کاهش عواید دولت، کاهش سرمایه گذاری ها، کاهش فعالیت پروژه های توسعوی و غیره شده و تأثیرات نامطلوب را بالای اقتصاد کشور وارد می نماید. چون قسمت زیاد عواید دولت از طریق محصولات و مالیات و از مدارک مختلف تجارتی و اقتصادی بدست می آید، بناءً فساد در عرصه های مختلف اقتصادی سبب افزایش مصارف دولت در سایر بخش ها گردیده و صدمات مالی زیادی را بر بودجه دولت وارد می نماید. مبارزه بر علیه فساد اداری و مالی سبب می گردد تا عواید دولت بصورت منظم و شفاف جمع آوری و عواید دولت بیشتر از پیش افزایش یابد.

**آغاز و توسعه سرک های حلقوی:** افغانستان کشوری است محاط به خشکه که ترانسپورت آن منحصر به بخش های زمینی و هوایی می گردد، ولی اکثریت انتقالات تجارتی کشور به وسیله ترانسپورت زمینی صورت می گیرد، نیاز است تا سرک های آن به استندرد های ملی و بین المللی جهت حمل و نقل عیار گردد. آغاز کار این چنین پروژه ها و احداث سرک ها جهت سهولت در عبور و مرور تجارتی و مردم از یک سو باعث رفع مشکلات تجارتی میان ولایات در زمینه انتقال اموال تجارتی، رفت و آمد مردم و سایر سهولت ها شده و از سوی دیگر سبب توسعه و افزایش حجم مبادلات اموال تجارتی خواهد شد که طبعاً با افزایش حجم تجارت، عواید تجار و به تبع آن عواید دولت نیز افزایش خواهد یافت.

**صادرات محصولات زراعتی:** زراعت یکی از سکتورهای مهم اقتصادی کشور محسوب می گردد که نمی توان نقش برازندهٔ آنرا در تقویت اقتصاد خانواده ها و اقتصاد کشور نادیده گرفت. افزایش در محصولات این سکتور و همچنان صادرات تعدادی از اقلام مهم تأثیرات مطلوبی را روی عواید دولت می گذارد. در میان اقلام صادراتی کشور که از شهرت جهانی برخورد اند می توان از جلغوزه، زعفران، انگور و انار کشور نام برد. افغانستان جهت افزایش عواید کشور باید روی صادرات این اقلام هر چه بیشتر تلاش بخرج دهد تا از این طریق عواید خوبی را بدست آورد.

**توسعهٔ راه های آهن:** چون افغانستان محاط به خشکه بوده، بناءً جهت رفع ضروریات کشور نیاز به راه های تجاری بیشتری دارد تا در کنار راه های موجود با سایر کشورهای همسایه وصل گردد و از این راه بتواند که کالاهای مورد نیاز کشور را وارد و برعکس کالاهای تولیدی کشور را به سایر کشورها صادر و عواید خوبی را جهت مصارف عادی و انکشافی خود بدست آورد. از اینکه توسعه ترانزیت کالاها میان کشور ها از اهمیت زیادی برخورداراست، بدین منظور افغانستان باید سعی نماید تا راه های دیگری را نیز جستجو کند تا در کنار دیگر منابع عایداتی خود، منابع جدید درآمد را برای کشور ایجاد و درآمد های اسعاری را نصیب خود کند. »

خطوط آهن مناطق شمال و غرب کشور می توانند برای صادرات کالاها و واردات اجناس مورد ضرورت کشور کمک نموده و منبع خوب عایداتی برای کشور شود.

## جلوگیری از قاچاق کالاها:

افغانستان یک کشور وارداتی است که اکثر اجناس و کالاهای مورد نیاز خود بخصوص مواد نفتی را به وسیله تجار از کشورهای دیگر بعد از طی مراحل گمرکی وارد می نماید. چون افغانستان منابع عایداتی ناچیز دارد، بناءً عواید مالیات از محصولات گمرکی یک قسمت عمده عواید این کشور را تشکیل میدهد. امکان قاچاق مواد و کالاهای وارداتی و صادراتی در کشور موجود است که به شکل غیر قانونی بدون طی مراحل گمرکی صورت می گیرند. قاچاق کالاها و اجناس فشارهای مالی را بالای اقتصادها وارد می نماید که قسمت عمده از عواید آن از طریق گمرکات بدست می آید. بناءً مبارزه با این پدیده اگر چه کار دشوار است، ولی یک امر ضروری محسوب میشود تا جلو این پدیده گرفته شده و عواید دولت بیشتر گردد.

در کنار موارد فوق، تعدادی از موارد نیز موجود است که دولت می تواند از طریق ادارات خدماتی نیز عواید خوبی را حاصل کند که تعدادی از آنها قرار ذیل اند.

اخذ پاسپورت و تذکره الکترونیکی برای سفر به کشورهای دیگر جهت سیاحت و تداوی یکی از نیازهای مردم به شمار میرود. دولت جهت بلند بردن عواید می تواند تمام بخش های پاسپورت ولایات در مرکز و ولایات را فعال نماید و در کنار رفع نیازمندی های مردم درآمد را شامل عواید کشور سازد.

به همین ترتیب، در کشور ما تعداد موترهای شخصی، تکسی، بس و باربری زیاد است و تعدادی از آنها به تمدید جواز سیر و حتی تعدادی از دریوران به تمدید لیسانس دریوری نیاز دارند که دولت می تواند با فعال سازی مدیریت های ترافیک مرکز و ولایات طی مراحل تمدید جواز سیر و سند درایوری آنها را آغاز کرده و از طریق آن سطح عواید خود را افزایش دهد.

همچنان، طی بیست سال گذشته تعدادی از انجنیران و تیکه داران خانه های را به شکل بلاک آباد و به مردم بفروش رسانیده اند. سند بلاک های متذکره صرف از طریق رهنماهای معاملات میان خریدار و فروشنده ها طی مراحل گردیده که یک سند عرفی می باشد و خریداران خواستار سند قانونی و شرعی در این مورد هستند. بناءً دولت از موضوع قانونی ساختن آن به نفع عواید دولت استفاده نموده و آنها را قباله شرعی دهد تا در منابع عایداتی دولت افزایش بعمل آید.

سرانجام می توان گفت که شکل گیری اقتصاد کشور در نتیجۀ چنین پروژه های زیربنایی امکان پذیر بوده و جهت رشد اقتصادی کشور یک امر حتمی است.

یما عفیف

مدیر نشرات د افغانستان بانک



# په اقتصاد کې د اسعاري زیرمو ارزښت

اسعاري زېرمې د یو هېواد د مرکزي بانک له لوري په کور دننه او یا هم بهرنیو هېوادونو کې د پولي سیاست د بېلابېلو عواملو له مخې ساتل کېږي چې د هغو سیاستونو له ډلې یو هم د ملي پولي واحد د ارزښت ساتل دي.

اوسمهال نړۍ د روانو پرمختګونو له کبله په نړیوال کلي بدله شوې ده. د نړۍ نږدې ټول هېوادونه له یو بل سره نږدې سوداګریزې اړیکې لري او دا سوداګریزې او نورې اړیکې هغه وخت لا ځواکمنېږي چې هېوادونه اسعاري زېرمې ولري. هغه هېوادونه چې اسعاري زیرمې لري دوی کولای شي په ډېرې آسانۍ له نړیوالو هېوادونو سره سوداګریزې اړیکې پر مخ یوسي. په دې مانا کله چې مونږ اسعاري زېرمې ولرو، کولای شو له دې زېرمو څخه د نړیوالې سوداګرۍ اړوند اسعار سوداګریزو هېوادونو ته ورکړو او په کور یې پر بنسټ خپل پولي واحد او یا هم نور اسعار بانکونو کې را غونډ کړو.

د بهرنیو اسعارو زیرمې د هر ملت لپاره د خورا ډېر ارزښت لرونکې دي. په اسعاري زیرمو کې بانډونه، بانکنوټونه، چکونه، سره زر او نور لوړ دولتي ضمانتونه شامل وي. د دې ډول زیرمو شتون کولای شي د هېوادونو د پولي واحدونو د ارزښت په ساتنه کې مهم رول ولوبوي.

مانا دا چې کله هېوادونه له بحراني حالتونو سره مخ کېږي، د دې ډول زېرمو شتون کولای شي د اقتصادي رغښت، بهرنیو پانګو د را جلب او د بېخ بنسټيزو پروژو د تمویل په برخه کې مهم رول تر سره کړي.

**په لاندې ډول د اسعاري زیرمو د ارزښت په اړه لا ډېر معلومات وړاندې کېږي:**

**د کورني پولي واحد د ارزښت ساتل:** د یو هېواد لپاره د اسعاري زیرمو شتون د دې لامل کېږي چې د کورني پولي واحد ارزښت خوندي وساتي. د کورني پولي واحد د ارزښت ثابته ساتنه کولای شي په هېواد کې د سوداګریزو توکو بیې په ټاکلې حد کې وساتي او اجازه ورنکړي چې په بازارونو کې د توکو

»

بيې لوړې شي.

**اقتصادي وده رامنځته کوي:** هغه هېوادونه چې د مبادلې د نرخ (floating exchange rate system) له سيستم څخه ګټه پورته کوي. د اسعارو زيرمې کاروي، ترڅو خپل پولي واحد د ډالرو له ارزښت څخه ټيټ وساتي. د بېلګې په توګه د چين هېواد تل هڅه کوي چې د خپل پولي واحد ارزښت د امريکايي ډالر په مقابل کې په ټيټ حالت کې وساتي. دا چاره کولای شي بهرنيو هېوادونو ته د چين هېواد په صادراتو کې زياتوالی راولي. د صادراتو زياتوالی د هېوادونو لپاره د اقتصادي ودې د رامنځته کېدو لامل کېږي.

**د بېړنيو (بحراني) حالاتو مديريت:** هغه هېوادونه چې اسعاري زيرمې ولري کولای شي، بېړني حالات يا پېښې په ښه ډول مديريت کړي. د بېلګې په توګه که په يو هېواد کې د زلزلې يا هم سيلابونو د را وتلو له کبله بېړنۍ پېښې رامنځته شي، په داسې حالاتو کې په کور دننه د رامنځته شويو پېښو د مديريت ځواک له منځه ځي، خو د اسعاري زيرمو شتون د دې لامل کېدای شي چې له دې لارې د پېښو د مديريت وړتيا ولرو او پر وخت سره وکولای شو چې پېښځپلو ته مرسته ورسوو.

**د بهرنۍ پانګونه راجلب:** د بهرنيو اسعارو زيرمې کولای شي بهرنۍ پانګې اچونې را جلب کړي. هر هېواد د اقتصادي ودې لپاره بهرنۍ پانګې اچونې ته اړتيا لري. په هېواد کې د ننه د بهرنيو پانګوالو د را جلب لپاره اړينه ده چې اسعاري زيرمې شتون ولري. دا چاره بهرنيانو هڅوي په خوندي ډول د پانګې اچونې لپاره زړه ښه کړي.

**د نړيوالو ژمنو پوره کول:** د مخ پر ودې هېوادونو لپاره د اسعارو زيرمې د ډېر ارزښت لرونکې دي. هر هېواد د نړيوالو ادارو د تر سره کولو لپاره اسعارو ته اړتيا لري. د دې لپاره چې هېوادونه په نړيواله کچه سوداګريزې چارې په ښه ډول کنترول کړي او له نړيوالو هېوادونو مرستې او پورونه په آسانه ډول تر لاسه کړي اړينه ده چې اسعاري زېرمې ولري.

**د پراختيايي پروژو تمويل:** د بهرنيو زيرمو ارزښت له بهرنيو هېوادونو سره په مالي تعامل پورې هم محدود نه دی. بېلابېل هېوادونه خپلې زيرمې د زيربنايي سکتور د تمويل لپاره کاروي.

**ګټه تر لاسه کول:** د اسعاري زيرمو شتون کولای شي د دې لامل شي چې په بېلابېلو برخو کې پر خوندي پانګونې سره د ګټې تر لاسه کولو ته لاره خلاصه کړي.

په لنډ ډول ويلای شو چې دا زيرمې په يو هېواد کې د بېړنيو حالاتو د رامنځته کېدو د مخنيوي او جبران لپاره ساتل کېږي، ترڅو د اړتيا پر مهال ترې ګټه پورته شي. همدارنګه د اسعاري زېرمو شتون د دې لامل کېدای شي چې د محلي پولي واحد ارزښت ثابت وساتل شي او د وارداتو لپاره د اړتيا وړ پيسې شتون ولري. بل هغه هېوادونه چې اسعاري زيرمې ولري له نړيوالو هېوادونو او مالي بنسټونو پور تر لاسه کولای شي او ډېرې نورې آسانتياوې ورته برابرېږي.

د يادونې وړ ده چې افغانستان اوسمهال څه باندې ۹ ميلیارده امريکايي ډالرو اسعاري زيرمې لري چې په هېواد کې د نوي نظام په را منځته کېدو سره د امريکا د متحده ايالتونو له لوري کنګل شوې دي او افغانستان ته اجازه نه ورکول کېږي چې له دې زيرمو ګټه پورته کړي. افغانستان دا مهال تر بل هر وخت دې زيرمو ته اړتيا لري، ترڅو خپل اقتصادي څرخ ته پرې حرکت ورکړي.

هيله ده چې نړيواله ټولنه په ځانګړې توګه د امريکا متحده ايالات به د شرايطو او خلکو د ژوند په پام کې نيولو سره د افغانستان اسعاري زيرمې له کنګل څخه وباسي، څو په هېواد کې وضعيت تر دې لا زياتخراب نه شي.

ژباړه او راټولونه: حسيب الله نوري د افغانستان بانک د نشراتو څانګې لوی آفيسر

سرچينې:


1 - Why Foreign Exchange Reserves Are Important? - Forex Education https://www.forex.in.rs/importance-of-foreign-reserves/

2 - Foreign Exchange Reserves and How They Work/BY KIMBERLY AMADEO/ REVIEWED BY ERIC ESTEVEZ on August 30, 2020 https://www.thebalance.com/foreign-exchange-reserves-3306258

3 - Foreign reserves and own funds Foreign reserves and own funds (europa.eu)

# بسمه تعالی

## د افغانستان بانک د سرپرست رئیس ښاغلي الحاج عبدالقاهر پیغام

الحمدلله و الصلاة والسلام علی رسول الله

اما بعد!

درنو هېوادوالو

د افغانستان بانک ټولو درنو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې د افغانستان سوداګریز بانکونه د دوی تر جدي څارنې لاندې دي او خپل ورځني عملیات تر پخوا ښه تر سره کوي او له بشپړ خوندیتوب څخه برخمن دي. د نړۍ او سیمې ټول بانکونه د معمول له مخې خپلې پانګې تر لس سلنې پورې په نقد ډول ساتي او پاتې نورې په ګټو سوداګریزو کاروبارونو کې په کار اچوي، ترڅو خپلو هېوادوالو ته مالي خدمتونه په سم ډول ورسوي.


د افغانستان سوداګریز بانکونه بیا په منځني ډول تر پنځوس سلنې پورې خپلې افغانۍ او نور اسعار له ځان سره لري. له دې څخه دا جوتیږي چې زمونږ بانکي سکتور غښتلی دی او پاتې نور یې په ګټو سوداګریزو چارو کې د هېواد د ننه او بهر پانګونې تر سره کړې دي، څو د هېواد په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي.

د افغانستان اقتصادي حالت ته په کتلو سره ټول بانکونه د صرافانو، شرکتونو او ملي سوداګرو په ګډون به ډېر ژر خپل کارونه عادي حالت ته را وګرځوي او خپلې چارې به په ښه او ډاډمنه توګه پر مخ یوسي. همدارنګه د افغانستان بانک ټولو هېوادوالو ته ډاډ ورکوي چې بانکي سکتور به له کلک عزم، له فساد پرته او له نویو بانکي برنامو سره خپلو هېوادوالو ته بانکي خدمات وړاندې کړي.

په پای کې د هېوادوالو له صبر او حوصله مندۍ څخه مننه کوو

د افغانستان بانک سرپرست رئیس

الحاج عبدالقاهر (محمد ادریس)



# نقش تکنالوژی اطلاعات در گسترش فعالیت بانک ها




بانکداری الکترونیکی عبارت از فراهم آوری دسترسی مشتریان به خدمات بانکی با استفاده از واسطه های امن و بدون حضور فزیکی است.

در صنعت بانکداری الکترونیکی، بکار گیری تکنالوژی اطلاعات موجب کاهش فاصلهٔ جغرافیایی و زمانی میان مشتری و بانک، کاهش مصارف ارائه خدمات بانکی، افزایش نقل و انتقال پول، افزایش رقابت میان بانک ها در ارائه خدمات و بهینه شدن صنعت بانکداری در کشور می گردد.

صنعت تکنالوژی اطلاعاتی در شرایط کنونی، جهان را چنان با تحول عظیم مواجه نموده که می توان از آن به عنوان انقلاب دیجیتلی نام برد. این تحولات دیجیتلی در شیوهٔ زندگی بشر تا جایی پیشرفت کرده است که دولتمردان کشور ها را به فکر ادارهٔ الکترونیکی بخصوص در بخش بانکداری مجبور ساخته اند.

تکنالوژی اطلاعاتی به عنوان محور توسعه و به منظور استقرار نظام اطلاع رسانی در حال حاضر در سیستم بانکداری به سرعت در حال گسترش است. بررسی ها در مورد تکنالوژی اطلاعاتی در قسمت توسعه خدمات بانکی در تمام کشورهای پیشرفته دلالت به پیشروی سرعت این تکنالوژی در بخش های مختلف زندگی بشریت بخصوص در بخش بانکداری دارد.

رشد سریع این تکنالوژی ثابت ساخته است که عدم توجه به این صنعت جهانی در بعضی کشور ها، آنها را از ارتباط جهانی حذف کرده و وادار به تقلید کور کورانه در بکار گیری آن که چندان توسعهٔ را در پی نخواهد داشت، کرده است.

روی این علت، استفاده تکنالوژی اطلاعات در میان بانک ها در حال گسترش بوده و خدمات بانکی توسط این شبکه صورت می گیرد. یکی از خوبی های استفاده از این پدیده، رقابت کاری و خدمات بیشتری را در میان بانک ها ایجاد نموده و بانک ها ناچار اند تا شکل جدیدی از رقابت ها را با همدیگر پیگیری کرده و در جهت قرار گرفتن در خط توسعه، خود را با شکل جدید بانکداری الکترونیکی همگام سازند.

طی بیست سال گذشته سطح نفوذ تکنالوژی اطلاعات و ارتباطات بطور چشمگیری رشد کرده است. بخصوص اطلاعات مبتنی بر کمپیوتر بطور فعال از کُلیه موضوعات و پیامد اصلی کسب و کار در همه نهادها بخصوص بانک ها پشتیبانی نموده و بطور قابل توجهی در جهت دهی تمام بخش های بانکی اثر بخشی خود را داشته و استراتیژی های تجاری و خدمات مشتری در بانک ها را تسهیل می نماید.

همچنان بخش های دولتی و خصوصی هر دو مشتاق اند تا از پوتنسیل های تکنالوژی معلوماتی و ارتباطات برای تقویت عملکرد اداری، و مدیریتی شان بهره ببرند. اجرای موفقیت آمیز تکنالوژی معلوماتی که اطلاعات نیز شامل آن می گردد، بستگی به پذیرش توسط اعضای کار بران آن نهاد دارد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- https://civilica.comنقش سیستم های اطلاعاتی بر اجرای مؤثر استراتیژی های صنعت بانکداری/ تاریخ نشر ۱۳۹۷

2- http://lavancom.comعنوان / نقش آی سی تی در صنعت بانکداری چیست؟ تاریخ نشر / ۲۹ / ۶/ ۱۳۹۲

۳- https://donya-e-eqtesad.comنقش فناوری در توسعه بانکداری الکترونیکی - دنیای اقتصاد/ تاریخ نشر : ۴ /۴ / ۱۴۰۰

# د ویسترن یونین او سویفټ حوالې

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې خلک کولای شي د ویسترن یونین او سویفټ له لارې حوالې تر سره کړي. که څه هم ویسټرن یونین او سویفټ د پیسو د حوالې دوه بېلابېلې لارې او شبکې دي او د یوې موخې لپاره کار کوي، خو د پیسو د لېږد لپاره له بېلابېلو لارو په کې کار اخیستل کېږي.

په دې مقاله کې د حوالې د یادو طریقو په اړه معلومات وړاندې کېږي.

**د ویسټرن یونین له لارې د پیسو لېږد (Western Union)**

ویسترن یونین د صرافۍ نړیوال شرکت دی چې کابو ۱۵۰ کاله وړاندې رامنځته شوی دی. دا شرکت د نړۍ په ۲۰۰ هېوادونو کې نږدې ۳۸۰ زره فعالې نمایندګۍ لري. دا د نړۍ لوی شرکت دی چې له محدودیت پرته په بیړني ډول د نړۍ ګوټ ګوټ ته پیسې لېږي.

ویسټرن یونین د پیسو د لېږد را لېږد په برخه کې د یو مخکښ شرکت په توګه په بازار کې د پام وړ برخه لري او خلک کولای شي له دې لارې د لګښتونو په پرې کولو سره له یادو خدمتونو ګټه پورته کړي.

د دې لپاره چې تاسو د ویسټرن یونین له لارې د پیسو حواله تر سره کړئ؛ په کار ده چې له خپل بانکي حساب، اعتباري کارت او یا هم په نغد ډول خپلې پیسې د دې شبکې د څانګې له لارې واستوئ.

کله چې تاسو د ویسټرن یونین له لارې پیسې استوئ، اړینه ده چې د حوالې د تر لاسه کوونکي شخص نوم، دنده د تلیفون شمېره د ویسټرن یونین څانګې ته ورکړئ. د اړوندې څانګې مسئول ستاسو پیسې اخلي او د ټاکل شوي کس آدرس ته یې لېږي.

»

**د سویفټ له لارې د پیسو لیږد (SWIFT)**

سویفټ یا Society for Worldwide Interbank Financial Telecommunication د نړیوالو مالي اړیکو ټولنه ده چې په ۱۹۷۳ زیږدیز کال کې د ۲۳۹ امریکایي او اروپایي بانکونو لخوا د نوي بانکي سیستم د رامنځته کولو لپاره رامنځته شو. د دې سیستم د رامنځته کولو موخه یې د پخواني کاغذي بانکي سیستم له منځه وړل او د عصري بانکي سیستم رامنځته کول ؤ.

په دې بانکي لیږد را لیږد کې پیسې په الکترونیک ډول له یو حساب څخه بل حساب ته استول کیږي. دا حساب کېدای شي په عین بانک، له یو بانک څخه بل بانک ته، په هېواد کې دننه او یا هم له هېواد څخه بهر وي. د بانک مسئولین کولای شي د پیسو د لېږد یا حوالې چاره په آنلاین ډول، تلیفون او یا هم په حضوري ډول تر سره کړي.

د سویفټ له لارې د پیسو د حوالې لپاره تاسو اړ یاست چې د حوالې اخیستونکي نوم، د حساب شمېره او د بانک نوم له ځان سره ولرئ.

د ویسترن یونین له لارې د حوالې لګښت: د ویسټرن یونین د کار لګښت د پیسو په کچې، د لیږد په ډول او موخې پورې تړاو لري. دا شرکت خپلو پېرودونکو ته د دې امکان ورکوي چې خپلې پیسې په آنلاین ډول، د تلیفون له لارې او یا هم په حضوري ډول د دوی استازولۍ ته په ورتګ سره ټاکلي شخص یا آدرس ته واستوي.

هغه کسان چې له دې لارې حوالې تر سره کوي، کولای شي د خپل بانکي حساب، اعتباري کارت او یا هم په نغد ډول د پیسو په ورکړې سره دا چاره تر سره کړي. بانکونه هغو کسانو ته چې بانکي حسابونه ولري کولای شي په دې برخه کې تخفیف هم ورکوي.

د سویفټ له لارې د پیسو د لیږد لګښت: د MyBankTracker ویب سایټ د معلومات له مخې په کور د ننه د پیسو د لیږد لپاره یو نرخ او له هېواده بهر د پیسو د حوالې لپاره بل نرخ ټاکل شوی دی. مانا دا چې په کور د ننه حوالې نسبت بهر ته په کم لګښت سره تر سره کیږي. هغه حوالې چې بانکونه یې تر سره کوي، د خپل لګښت پیسې له اړوندې حوالې ګرځوي.

د یادونې وړ ده چې د بانکونو له لارې د حوالو تر سره کول تر ټولو خوندي لارې دي او اړتیا نشته چې په فزیکي ډول ولیږدول شي.

په بربېښنایي ډول د پیسو لیږد را لېږد په بازارونو کې په فزیکي ډول د پیسو مبادله کموي او دا لامل کیږي چې پیسې ژر زړې نه شي او مرکزي بانک اړ نه شي چې د پیسو په دویم ځلي چاپ لګښت وګړي.

همدارنګه دا چاره په خورا خوندي توګه تر سره کیږي او هغه خطرونه چې په فزیکي ډول د نغدو پیسو پر وړاندې موجود دي کموي او د حوالې چارې په بیړني ډول تر سره کیږي.

د سویفټ، ویسټرن یونین او نورو بانکي شبکو له لارې د حوالو تر سره کول د سوداګرۍ چارې آسانوي او سوداګر کولای شي په کم وخت کې خپل پیسې له یوه ځای څخه بل ځای ته د خپلو سوداګریزو او مالي معاملو لپاره واستوي او یا هم تر لاسه کړي.

ژباړه او راټولونه

سرچینې:

۱ – تفاوت حواله وسترن یونیون و حواله سویفت چیست؟ https://pardakhtino.com/blog/western-union-vs-bank-transfer

۲ – سویفت چیست و چه کاری انجام می دهد؟ http://www.tarazpadra.com/fa

۳ – در مورد کارتهای پریزی ویزا http://www.epaymenthub.com

# اطلاعیه د افغانستان بانک!

به تعقیب اطلاعیه قبلی د افغانستان بانک مبنی بر سپرده های مردم نزد بانکهای تجارتی به سمع هموطنان عزیز میرسانیم:

جهت ایجاد سهولت در روند پرداخت سپرده های مشتریان رسیدگی به مشکلات مالی اتباع کشور و ایجاد سهولت هر چه بیشتر در اجرای فعالیت و خدمات بانکی تمام بانک ها و نمایندگی بانک های خارجی مکلف به تطبیق موارد ذیل می باشند:

۱ – پرداخت مبلغ ۴۰۰ دالر امریکایی در هفته برای دارندگان حسابات انفرادی دالر امریکایی و در صورت برداشت ماهانه صرفاً یک مرتبه در ماه، پرداخت مبلغ ۱،۲۰۰ دالر امریکایی؛

۲ –پرداخت مبلغ ۳۰،۰۰۰ افغانی در هفته برای دارندگان حسابات انفرادی افغانی و در صورت برداشت ماهانه صرفاً برای یک مرتبه در ماه، پرداخت مبلغ ( ۱۰۰،۰۰۰) یکصد هزار افغانی؛ و

۳ – عدم انتقال پول از حسابات انفرادی به حساب شرکتها توسط بانک های تجارتی بدون ارائه دلایل و اسناد موجه.

همچنان اکیداً هدایت داده می شود تا پس از تاریخ ۱۴۰۰/۸/۱۲ مشتریانی که پول های خود را طور نقد در حساب های بانکی می سپارند، می توانند هر وقتی که خواسته باشند بصورت مکمل برداشت و یا به حساب دیگر انتقال دهند و در صورت تخطی بانک ها و نمایندگی بانک های خارجی و یا در یافت شکایات مستند منجانب مشتریان، با متخلفین برخورد اصولی صورت خواهد گرفت.

با این حال، د افغانستان بانک طبق وعده خود در تلاش است تا سهولت های بیشتر از این را برای مردم عزیز خود فراهم نموده و فعالیت نظام بانکی را بشکل نورمال در آورده تا ضمن ارائه خدمات مؤثر برای هموطنان عزیز در راستای احیا و تمویل پروژه های کلان اقتصادی سهم خود را به خوبی ایفا نماید.



# اقتصادي خبرونه

**ټولو دولتي مامورينو ته د دريو مياشتو معاشونه ورکول کېږي**

۱.۱.۱ دولتي مامورينو ته د هغوی د دريو مياشتو تنخواو د ورکړې اعلان کړی دی. د ماليې وزارت وايي، د وړې، تلې او لړم مياشتو دغه تنخواوې له کورنيو عوايدو څخه په يوځای ورکوي. د ياد وزارت وياند احمد ولي حقمل په يو خبري کنفرانس کې وويل چې له دې وروسته به د معاشونو ورکړه کې ځنډ نه راځي. د ښاغلي حقمل په خبره چې د دولتي مامورينو په معاشونو کې يې "پخوانی نابرابري او نا انډولي " له منځه وړي ده.

له دې مخکې ملګرو ملتونو کې د ماشومانو ملاتړ اداري يونيسيف ويلي وو، د افغان ښوونکو تنخواوې به مخامخ د دغه اداري له لوري ورکړل شي.

د ماشومانو لپاره وجهي صندوق (يونيسف) چارواکو اعلان وکړ چې دغه اداره به داسې يوه سيستم کار کوي چې له مخې يې د افغان ښوونکو مياشتني معاشونه په مستقيم ډول ورکړل شي.

خو د ماليې وزارت وياند وايي، د ښوونکو په ګډون دولتي مامورينو ته د دريو مياشتو معاشونه له کورنيو عوايدو ورکوي. د نوموړي په خبره تر دريېم بست پورې ټيټو بستونو معاشانو کې بدلون نه دی راغلی، خو په وينايي له دې پورته "د دويم، لومړي او مافوق بستونو په معاشونو کې يو څه کموالی راغلی دی".

نوموړی، تر دريو مياشتو پورې د حکومتي مامورينو د معاشونو ځنډېدو لامل د دې معاشونو لپاره د نوې کچې چمتو کېدل بولي. د يادونې ده چې په افغانستان کې د طالبانو له واکمنېدو راهيسې يوازې د زمري مياشتې معاشونه ورکړل شوي او زرګونه دولتي مامورين بې دندې پاتې شوي دي. د دريو مياشتو د معاشونو ورکولو تازه اعلان داسې مهال کېږي چې په هېواد کې د اقتصادي کړکېچ ژوريدو له کبله د ښوونکو په ګډون دولتي مامورين په خورا بد حالت کې دي.

د رواني نومبر مياشتې لومړيو کې د معاشونو نه ورکول کېدو له کبله د اعتراض په توګه کندهار کې ځايي ښوونکو کاربنديز هم اعلان کړی و.

**صليب سرخ: پول نقد مهمترين ضرورت افغانستان است**

رييس کميته بين المللی صليب سرخ می گويد، درحاليکه افغانستان در معرض يک بحران بشری قرار دارد، نهادهای خيريه تلاش می ورزند، راهی را برای پرداخت معاشات داکترها و نرس ها دريابند، زيرا واريز کردن پول به حساب های بانکی آنان ممکن نيست.

پيترمارير، رييس کميته بين المللی صليب سرخ در حالی از وخيم شدن وضعيت در افغانستان می گويد که هفته گذشته نماينده ويژۀ سازمان ملل متحد برای افغانستان هشدار داده بود که اين کشور در معرض بحران بشری قرار دارد.

سازمان ملل متحد پيشبينی کرده است که ۶۰ درصد جمعيت افغانستان با کمبود

»

مواد غذایی مواجه است و این مشکل ممکن در زمستان شدیدتر شود. صلیب سرخ که از حدود ۳۰ سال به اینسو در افغانستان فعالیت می کند، پول نقد (دالر) را به افغانستان انتقال می‌دهد، به افغانی تبدیل کرده و معاش کارمندان افغان اش را می پردازد. کمیته بین المللی صلیب سرخ این کار را با منظوری ادارهٔ کنترول دارایی ها خارجی وزارت مالیه امریکا از طریق یک توافق جداگانه با وزارت صحت عامهٔ افغانستان انجام می‌دهد، که بر اساس آن پول به گونهٔ مستقیم از طریق صلیب سرخ به کارمندان صحی داده می‌شود.

آقای ماریر گفت: "بیایید به یاد داشته باشیم که شماری زیادی از داکترها، نرس ها و کارمندان سیستم آبرسانی و برق همان کارمندان پیشین اند، فقط رهبری آنان عوض شده است".

پس از مسلط شدن طالبان و خروج نیروهای خارجی در ماه اگست، افغانستان با بحران سخت اقتصادی مواجه شد. مقامات حکومت طالبان هر نوع دادوستد با اسعار خارجی را ممنوع کرده و از کانگرس امریکا خواسته اند که پول‌های راکد افغانستان را آزاد سازد، تا آنان بتوانند معاشات مامورین را بپردازند. امریکا ۹.۵ میلیارد دالر بانک مرکزی افغانستان را راکد کرده است.

آقای ماریر افزود که سازمان های بشری، مشکل سقوط اقتصاد افغانستان را حل کرده نمی توانند و برای حل این مشکل نیاز است تا از طریق یک توافق، پول نقد بدون به رسمیت شناختن طالبان، به افغانستان وارد شود. بودجه صلیب سرخ در افغانستان برای سال ۲۰۲۲ از ۹۵ میلیون دالر به ۱۶۳ میلیون دالر افزایش یافته است.

آقای ماریر علاوه کرد که با توجه به خشکسالی موجود در افغانستان ممکن مردم با گرسنگی مواجه شوند، به خاطریکه از یک طرف وضعیت اقتصادی بی ثبات می باشد و از جانب دیگر خشکسالی زراعت و تولید مواد غذایی را متأثر کرده است.

او اضافه کرد: "من بین غذا، صحت، سیستم آب وبرق و آموزش و پرورش ارتباط مستقیم می بینم و در مورد آن نگران استم به خاطریکه این سیستم‌ها با هم وابسته اند".

کمیته صلیب سرخ از مدت ۳۰ سال به اینسو در هماهنگی با جمعیت هلال احمر افغانی در افغانستان فعالیت دارد. این نهاد در افغانستان ۱۸۰۰ کارمند دارد که تقریباً همه افغان اند.


سرچيني:

۱- بي بي سي پښتو https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-59360322

۲- صدای امریکا https://www.darivoa.com/a/afghaistan-most-presing-need-is-cash-/6321712.html




# بیمه؛ تضمینی برای جبران خساره

بیمه قراردادی است که در آن شرکت بیمه تعهد می کند که در مقابل پول ( حق البیمه) که یک شخص و یا یک شرکت ( بیمه گزار) به آن می پردازد، به بیمه گزار هنگام رویداد و حوادث پیش آمده جبران خساره بپردازد.

بیمه به بیمه گزار کمک می کند تا در هنگام وقوع حوادث ناگوار، از ضرر مالی جلوگیری کند. طور مثال اگر یک شخص خانه خود را در برابر آتش سوزی بیمه کند، در صورتیکه خانه موصوف در اثر کدام رویداد آتش بگیرد، شخص مذکور به شرکت بیمه رفته و با ارائه اسناد بیمهٔ خویش، درخواست جبران خساره می کند. شرکت بیمه مطابق قرارداد مکلف است که به وی به اندازهٔ مبلغ توافق شده، جبران خساره پرداخت کند.

با بیمه کردن اموال خویش، افراد و شرکت ها می توانند که خطرات احتمالی آینده مانند سرقت، آتش سوزی، حادثه ترافیکی، مریضی و امثال آن را به شرکت «

بیمه انتقال داده و جبران خساره طلب کنند. فیس بیمه که بنام حق البیمه نیز یاد می شود، بر اساس احتمال خطرات متوقعه تعیین می گردد. طور مثال اگر یک شخص بخواهد موتر خویش را در برابر حادثات ترافیکی بیمه کند، شرکت بیمه معلوماتی را می خواهد بدست آورد که بر اساس آن بتواند خطرات متوقعه را دقیق تر سنجش کند. این معلومات می تواند شامل، جدید یا کهنه بودن موتر، حادثات شخص مذکور در گذشته، بی احتیاطی و یا با احتیاط بودن شخص مذکور، سرعت گیری زیاد، جرایم ترافیکی که بخاطر حادثات موصوف در گذشته پرداخت کرده است و ... می باشد. هر قدر که معلومات مثبت باشد، حق البیمه پائین تر تعیین می شود، در صورتیکه معلومات منفی بوده و احتمال اتفاق افتادن حادثه در آینده بیشتر باشد، به همان تناسب حق البیمه بلندتر تعیین می شود.

چگونه می توان از خدمات بیمه استفاده کرد؟

برای مستفید شدن از خدمات بیمه، شما می توانید بشکل مستقیم از شرکت بیمه و یا از نمایندگی های که خدمات بیمه را عرضه می کنند، انواع مختلف بیمه را بدست آورید.

بیمه دارای انواع متعدد بوده که در ذیل صرف به چند نوع آن می پردازیم.

**۱. بیمه آتش سوزی یا حریق:** این نوع بیمه به منظور جبران خساره دارایی های اشخاص و شرکت ها در برابر آتش سوزی می باشد. افراد و شرکت ها می توانند تا در برابر خطرات احتمالی آتش سوزی، خانه، دکان و اموال تجارتی خویش را در مقابل آتش سوزی بیمه کنند.

**۲. بیمه صحی:** این نوع بیمه دارای انواع مختلف مانند بیمه دندان، بیمه عمل جراحی و سایر انواع بوده که حسب توافق میان شرکت بیمه و بیمه گزار یک بخش و یا هم کُل هزینه تداوی یک شخص توسط شرکت بیمه در برابر دریافت حق البیمه معین، دریافت می گردد.

**۳. بیمه سفر:** با داشتن بیمه سفر، هر گاه یک شخص در جریان سفر مریض شده و یا تصادم کند، شرکت بیمه خسارات مالی وارده بر بیمه گزار را جبران کرده و هزینه آن را می پردازد.

**٤. بیمه حوادث شخصی:** این نوع بیمه شخص را در مقابل حوادث ناگهانی چون تصادف، لغزیدن، حوادث ترافیکی، افتیدن و سایر حوادث غیر مترقبه تحت پوشش قرار میدهد.

قابل ذکر است که با وصف اینکه شرکت بیمه افراد و اشخاص را با دریافت حق البیمه در موارد مختلف بیمه می کند، اما شخص و یا شرکت بیمه شده نیز دارای مسئولیت های مشخص بوده که باید آن را مراعات کند. در صورت وقوع حادثات، شرکت بیمه پیرامون موضوع تحقیق کرده و بعد از آن روی پرداخت جبران خساره تصمیم می گیرد. به طور مثال، در صورت بیمه آتش سوزی، بیمه گزار باید وسایل ضد حریق را در منزل خویش نگهداری کرده و تدابیر جلوگیری از آتش سوزی را مراعات کند. در صورتی که شخص مذکور در این مورد بی توجهی کرده و یا شواهد مبنی بر عمدی بودن آن بدست آید، شخص متذکره مستحق جبران خساره نخواهد گشت.



# معرفی بعضی از اصطلاحات مهم بانکی

فعالیت بانکها در قالب اصطلاحات بانکی نظیر چک، سفته، بانکهای تخصصی یا توسعه ای، عقد، مشارکت تجاری، نقدینگی، امانات، عملیات مالی، خرید و فروش ارزها، نقل و انتقال وجوه، وصول مطالبات اسنادی، پرداخت بدهی مشتریان، انجام وکالت خرید و فروش و غیره تقسیم شده است که در ذیل، به تعریف بعضی از آنها به شکل خلاصه پرداخته می شود.

چک: چک یکی از اسناد تجارتی است که بیشترین کاربرد را دارد. اسناد تجارتی اسنادی را گویند که تجار در روابط تجارتی از آنها استفاده می نمایند و دستور پرداخت مبلغ معینی را در شرایط خاص می دهند.

برات: عبارت از یک سند مهم تجاری است که بر اساس آن، صادر کننده با صدور آن به دارنده؛ او را برای دریافت جهت دریافت مبلغی پول بسوی شخص دیگری که بنام براتگیر یا محال علیه یاد می شود، می فرستد. برات در دادوستد های تجاری بین المللی مروج بوده، اما در تجارت داخلی از آن استفاده بعمل نمی آید. براتگیر عبارت از شخص ثالثی است که برای پرداخت مبلغ پیش بینی می گردد.

برات دارای یک سلسه مقررات نیز می

«

باشد که مقررات آنرا موارد هذا تشکیل میدهد. امضاء یا مهر صادر کننده، قید کلمهٔ برات به روی ورقه، تاریخ تحریر با قید روز و ماه و سال، اسم براتگیر، ذکر مقدار یا مبلغ، تاریخ مکان پرداخت مبلغ همراه با مکان پرداخت آن، اسم شخصی که برات در وجه او صادر می شود. در صورت فقدان موارد فوق، نوشتهٔ صادر شده سند تجاری محسوب نمی شود.

سفته: سفته عبارت از طلب سند تجاری است که بر اساس آن شخص صادر کننده سفته تعهد می نماید که مبلغ معینی را در زمان معین یا عند المطالبه به شخص دیگری ( گیرندهٔ سفته) بپردازد. سفته بر اساس خطرات انتقال پول و توسعهٔ تجارت بین المللی بین تجار بین المللی رواج یافت و امروز از آن به عنوان یک وسیلهٔ اعتباری در سرمایه گذاری های کوتاه مدت در بخش های مختلف تولیدی صنعتی، خدماتی و تجارتی استفاده بعمل می آید. سفته در لغت به معنای آن است که کسی چیزی را از کس دیگر به شکل عاریه یا قرض یا چیزی را بگیرد و در شهر دیگری آن را پس بدهد.

بانک تخصصی یا توسعه ای: بانک تخصصی یا توسعه ای به بانکی گفته می شود که علاوه بر وظایف اعتباری بانکی مسئولیت توسعه ای را نیز بدوش دارد. بانکهای تخصصی منابع مالی کشور ها را در بخش های مختلف اقتصادی توزیع می نمایند.

تفاوت این بانک با سایر بانکهای تجارتی در این است که بانک های تخصصی در مجموع در طرح های پُر ریسک و دیر بازده سرمایه گذاری می نمایند که سایر بانکهای تجارتی تمایل چندانی به آنها ندارند.

تا کنون بانکهای بیشماری در کشورهای صنعتی پیشرفته و در حال توسعه، تأمین منابع مالی و فنی لازم و همچنان هدایت سرمایه گذاری های بخش خصوصی و غیر خصوصی را بطرف انجام سرمایه گذاری بعهده دارد. در نهایت بانک های تخصصی، در مسیر کمک به حل مشکلات توسعهٔ اقتصادی کشورها و رفع تنگنای موجود در سر راه آنها رسالت عمده و اساسی دارند.

عقد: عقد عبارت از این است که یک یا چند نفر در مقابل یک یا چند نفر دیگر تعهد به کاری می نمایند که مورد قبول همهٔ شان باشد.

مشارکت تجارتی: مشارکت تجارتی زمانی به وجود می آید که بیشتر از یک صاحب شغل گرد هم جمع شده، در فایده، زیان و بدهی با هم سهیم شوند. در مشارکت تجارتی، شرکاء توافق نامهٔ کتبی مشارکتی را ترتیب می دهند و نحوهٔ چگونگی مدیریت تجارت را بیان و شیوهٔ توزیع سود و زیان را واضح می سازند.

نقدینگی: نقدینگی عبارت از مجموعه پول شامل سپرده های دیداری نزد بانکها، بانکنوت و مسکوک در دست اشخاص و شبه پول مانند سپرده های سرمایه گذاری مدت دار، سپرده های قرض الحسنهٔ پس انداز و سایر سپرده های متفرقه می باشند. همچنان می توان گفت که مجموع بانکنوتها، مسکوکات و سایر منابع اعتبارات بانکی اجزای مهم نقدینگی را تشکیل می دهند. •

عبدالحفیظ شاهین

---

۱. عنوان/ شناخت اسناد تجاری ( چک، سفته و برات) در قانون تجارت https://civilica.com › doc تاریخ نشر : سال ۱۳۹۶

۲. https://www.eghtesadonline.com الزامات نهادی بانک‌های تخصصی و توسعه‌ای در کمک به بخش صنعت/ تاریخ نشر : ۱۰ /۴/۱۳۹۹

۳. https://donya-e-eqtesad.com/عنوان / نقدینگی به زبان ساده – روزنامه دنیای اقتصاد/ تاریخ نشر ۱۳ / ۸/ ۱۳۹۵.

د افغانستان اسلامي امارت

# د افغاستان بانک خبرتیا

د افغانستان بانک د قانون د دري دېرشمې مادې سره سم د افغانستان دودیزه پیسې او پولي واحد افغانی دي. له همدې امله د ټولو افغانانو، دولتي او خصوصي ادارو او مؤسسو څخه غوښتل کېږي څو په قرار دادونو، نورو پولي معاملو او په اقتصادي راکړو او ورکړو کې له افغانیو کار واخلي، څو اقتصادي پرمختګ ته لاره هواره شي.

# اطلاعیۀ د افغانستان بانک

مطابق مادۀ سی و سوم قانون د افغانستان بانک پول رایج و واحد پولی افغانستان افغانی است. بناءً از عموم افغان ها، دوایر و مؤسسات دولتی و خصوصی خواسته میشود تا در قرار داد ها و سایر معاملات پولی و داد و ستد های اقتصادی از پول افغانی استفاده نمایند تا سبب رشد اقتصادی گردد.






# مختصری بر بانکداری سنتی و بانکداری الکترونیکی

بانکداری سنتی همان نوع معمول بانکداری در دنیاست که بر دریافت و پرداخت منفعت استوار بود. بانکداری سنتی به شیوهٔ متداول در گذشته یعنی استفاده از شعبهٔ فزیکی و انجام عملیات به شکل فزیکی توسط کاغذ و قلم بود.

در بانکداری سنتی، متقاضیان، به منظور پرداخت هزینه های آب، برق، گاز، تیلفون و یا انتقال پول از یک حساب به یک حساب دیگر و برای پرداخت و دریافت وجه نقد ساعت ها در صف های طویل می ایستادند.

فعالیت های آن به یک شکل خاص ادامه داشت. این نوع بانکداری متکی بر تعداد شعب و در قید ساعات اداری بود که با بانک های بین المللی رابطهٔ نزدیک نداشتند، اما بانکداری الکترونیکی به سیستم بانکداری سنتی که به حجم کاغذ و تعداد »

نیروی انسانی استوار بود، نقطهٔ پایان گذاشت.

بانکداری الکترونیکی عبارت از ارائهٔ خدمات بانکی از طریق شبکهٔ انترنت است که به شکل پول دیجیتلی، چک الکترونیکی، امضای دیجیتلی و غیره بکار گرفته می شود.

شبکهٔ بانکداری الکترونیکی بخاطر ورود به بازار های جهانی، عضویت در سازمانهای مالی، تجارت جهانی و غیره را یک امر ضروری می داند. در موجودیت این سیستم، امکان دارد که سیستم مالی و تجاری یک کشور با دقت، سرعت و با تکنالوژی هم سطح با سیستم تجاری و بانکهای پیشرفتهٔ جهان وارد بازار و معامله شده و مذاکرات بین خریدار و فرشنده، سفارش خرید، انتقال پول بصورت الکترونیک، حمل و نقل کالا بر اساس درخواست های الکترونیکی و غیره صورت گیرد.

بانکداری الکترونیکی در قالب کانون های کار و زندگی در شهرها و روستاها، و شرکت ها، اصناف و غیره، در بستر انترنت، بصورت غیر حضوری خدمات شایانی را عرضه می نماید.

در بانکداری سنتی بخش های اداری انتقال پول به شیوهٔ سنتی، نظیر انتقال پول بسیار هزینه بر می باشد، در حالیکه هزینهٔ نقل و انتقال پول الکترونیکی به دلیل استفاده از شبکهٔ انترنت و کمپیوتر های شخصی بسیار کم و حتی نزدیک به صفر است.

یکی از بخش های بانکداری الکترونیکی، پول الکترونیکی است که سهولت های زیادی را به مردم به میان آورده است.

پول الکترونیک بدون مرز بوده و هیچگونه مرز سیاسی را نمی شناسد و هزینهٔ انتقال آن در داخل و خارج کشور یک سان است. هر کسیکه به انترنت وصل است، هر وقتیکه خواسته باشد از پول الکترونیکی خود استفاده کرده می تواند. حتی انتقال آن از یک شخص به شخص دیگر نیز امکان پذیر می باشد. در حالیکه پرداخت های کارت اعتباری بیشتر در ساحهٔ فروشگاه ها محدود می باشد.

افزایش رقابت میان بانکهای الکترونیکی، در نهایت منجر به کاهش مصارف مبادلات، برای مصرف کنندگان شده و بهترین وسیلهٔ گستردگی تجارت الکترونیکی نیز می گردد.

در بانکداری الکترونیکی کلیه داد و ستد و تبادلهٔ اسناد، نظیر سفارش خرید، قیمت، بارنامه، اطلاعیهٔ وصول و غیره از طریق کمپیوتر و انتر نت صورت می گیرد. فعالیت های بانکداری الکترونیکی سبب می شود که کمپیوتر و انترنت بدون تهیه و ترتیب مدارک کاغذی با دیگر نهاد های مالی و تجارتی ارتباط برقرار کند و تلاش انسان برای خواندن و طبقه بندی کردن و حمل فزیکی اینگونه اسناد حذف شود.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

https://kem.kowsarblog.ir/ مقایسه بانکداری الکترونیکی با بانکداری سنتی/ تاریخ نشر: ۱۹۹۷

. /https://donya-e-eqtesad.com بانکداری الکترونیک یا بانکداری مدرن سنتی – دنیای اقتصاد/ تاریخ نشر: ۲۶ / اسد / ۱۳۸۷

https://ebinews.com › news › show/ زیت های بانکداری دیجیتالی در مقابل بانکداری سنتی/ تاریخ نشر ۱۸میزان ۱۳۹۹



# لیټر آف کریډټ / لیتر اف کریدت

لیتر اف کریدت و یا اعتبار نامه عبارت از سندی است که یک بانک به فروشنده اموال تجارتی در خارج از کشور اطمینان می بخشد که خریدار، پول اجناس تجارتی خریداری شده را بر اساس قراردادیکه بین خریدار و فروشنده شده است، به وقت معین آن پرداخت می کند.

نقش اعتبار نامه بانکی در گسترش فعالیت های تجارتی در این است که زمینهٔ معاملات تجاری بیرون مرزی را میان فروشندگان و خریدارانی که با هم شناخت نداشته و نمی توانند نسبت به هم اعتماد کنند را فراهم ساخته تا این معاملات تجاری انجام یافته و هر دو طرف از آن نفع ببرند.

لیټر آف کریډټ له هغه سند څخه عبارت دی چې بانک له هېواده بهر د سوداګریزو توکو پلورونکي ته ډاډ ورکوي چې پېرودونکي د پېرل شویو توکو پیسې د هغه قرارداد پر بنسټ چې د پلورونکي او پېرودونکي له لوري تر سره شوی دی، په ټاکلي وخت سره ادا کوي.

د سوداګریزو فعالیتونو د پراختیا په برخه کې د بانکي اعتبار نامې رول دا دی چې له هېواده بهر د هغه پلورونکي او پېرودونکي ترمنځ چې له وړاندې له یو بل سره پېژندګلوي نه لري او نه شي کولای پر یو بل باور وکړي د سوداګریزو معاملو زمینه برابره کړي، څو سوداګریزې معاملې تر سره شي او دواړه لوري ترې ګټه پورته کړي.



# نگاه کوتاه بر رشد اقتصادی و توسعه اقتصادی

واژه های رشد و توسعهٔ اقتصادی بعضاً از سوی مردم به یک معنی گرفته شده اند، اما باید گفت که میان این دو کلمه تفاوت وجود دارد که در ذیل به مفاهیم هر دو آنها پرداخته شده است.

میان دو مفهوم ( رشد اقتصادی) و ( توسعهٔ اقتصادی) فرق وجود دارد. رشد اقتصادی مفهوم کمی را می دهد، در حالیکه توسعهٔ اقتصادی مفهوم کیفی را ارائه می نماید.

بر اساس منابع مختلف، رشد اقتصادی عبارت از افزایش سرمایه و نیروی کار، افزایش بهره وری عوامل تولید، بکار گیری سایر عوامل و ظرفیت ها در اقتصاد و در کُل در برگیرنده تغییر در تولیدات ملی یک کشور است. عمده ترین عوامل رشد اقتصادی عبارت از سرمایهٔ انسانی است.

بسیاری از تحلیلگران اقتصادی رشد اقتصادی یک کشور را به سطح سرمایهٔ انسانی آن نسبت می دهند که از آن به عنوان مهارت های نیروی کار نیز تعریف شده است. رشد اقتصادی همچنان به معنای افزایش مستمر تولید ملی در یک کشور، به عنوان یک معیار برای سنجش عملکرد اقتصادی شمرده می شود.

اما، توسعهٔ اقتصادی عبارت از افزایش ظرفیت های تولید، مانند افزایش ظرفیت انسانی، اجتماعی، رشد کمی، متحول شدن نهاد های اجتماعی، تغییر نگرش ها، توان بهره برداری از منابع موجود بصورت مستمر، همراه با نوآوری است. توسعه امر فراگیر در جامعه بوده و حد و مرز و سقف مشخص نداشته و برخلاف رشد اقتصادی، کاملاً یک پدیدهٔ کیفی بوده و هیچ گونه محدودیتی ندارد.

موضوع توسعهٔ اقتصادی در قرن هفدهم و هجدهم میلادی در کشور های اروپایی شدت گرفت. از طرف دیگر فشار صنعتی شدن و رشد تکنالوژی در این کشور ها همراه با تسخیر بازار کشورهای عقب مانده باعث شد که در مدت زمان کوتاه، شکاف عمیق میان کشور های توسعه یافته و کشور های عقب مانده ایجاد شده و دو دسته از کشورها در جهان، بنام کشور های توسعه یافته و توسعه نیافته شکل گیرد.

اهداف عمدهٔ توسعهٔ اقتصادی را رفاه مردم در جامعه، نظیر ایجاد شغل، عدالت اجتماعی و سایر خوبی های اجتماعی تشکیل می دهد، در حالیکه، درکشور های عقب مانده، هدف عدالت اجتماعی و ریشه کن ساختن فقر تشکیل می دهد.

دیگر اهداف توسعه در یک کشور را عواملی مانند، پایان دادن به فقر، امنیت غذایی، صحت، آموزش با کیفیت، »



دسترسی به آب صحی و انرژی، اشتغال، ترویج نو آوری در عرصۀ صنعت، کاهش نا برابری، تأمین امنیت شهر ها و روستا ها، محیط زیست سالم، متوقف ساختن قطع جنگلات و تخریب زمین، دسترسی به عدالت و توسعۀ همکاری ملی و بین المللی و غیره تشکیل می دهند.

در دنیای امروزی رسیدن به توسعه، جزوی مهمترین دکترین و آرمان های هر جامعه بوده، توسعه یک واقعیت مادی و ذهنی می باشد. سر انجام می توان گفت که توسعه روندی است همه جانبه و فراگیر که جهت بهبود شرایط زندگی و افزایش توانایی های زندگی مردم بکار برده می شود و پاسخگو به نیاز های معقول زندگی مردم می باشد.

عبدالحفیظ شاهین

منابع:

۱- https://www.beaghtesad.comتفاوت رشد اقتصادی و توسعه اقتصادی در چیست؟ - با اقتصاد/ تاریخ نشر: ۴/ 1 / 1397

2- https://donya-e-eqtesad.comعوامل زمینه‌ساز توسعه در کشورهای پیشرفته و در حال توسعه چیست؟/ تاریخ نشر: ۱۵ / ۱۲ / ۱۳۹۱

۳- https://www.nipna.ir عوامل رشد اقتصادی – نیپنا/ تاریخ نشر: ۱۵ /۶/۱۳۹۸

# محصولات و خدمات مالی در افغانستان



در افغانستان؛ بانک های تجارتی، مؤسسات قرضه های کوچک و مؤسسات پول الکترونیک محصولات و خدمات متنوع مالی را جهت سهولت به مردم عزیز ما عرضه می کنند . این محصولات و خدمات مالی شامل حساب جاری، حساب پس انداز، حساب میعادی، حساب مشترک، حساب معاش، قرضه تجارتی، قرضه اضافه برداشت، قرضه مصرفی، قرضه زراعتی، قرضه برای معلمین، اعتبار نامه بانکی ( لیتر اف کریدت )، تضمین بانکی، محصولات مختلف بانکداری اسلامی، انتقالات داخلی و خارجی پول، خدمات مبادله پول های خارجی، بانکداری از طریق انترنت، بانکداری از طریق تلیفون موبایل، کارت اعتباری، دبت کارت، کارت پیش پرداخت، صندوق مصون نگهداری اشیای قیمتی و اسناد معتبر، ماشین خودکار صرافی، ماشین پاس و خدمات موبایل منی می گردند. علاوه بر آن شرکت های بیمه که جواز فعالیت شان را از وزارت مالیه بدست می آورند، خدمات مختلف بیمه مانند بیمه سفر، بیمه صحی، بیمه حریق، بیمه حادثات، بیمه اموال تجارتی و امثال آن را عرضه می کنند.


پول افغانی نشانهٔ افتخار،
اقتدار و هویت ملی ماست!

# بانک

ماهنامهٔ د افغانستان بانک
سال پانزدهم شماره ۱۷۲ عقرب ۱۴۰۰




## زه افغان یم، افغانی، زما هویت دی